چې د جګړې مصدومین او معیوبین ښکاري او هر څوك يې ویني چې په جګړه کې زخمي شوي ، لاس یا پښه يې له منځه تللي او یا يې د وجود یوه برخه نشته . هغه معیوبین چې په عصبي جروحاتو اخته وي او یا د سر د کوپړۍ زخمونه او ترضیضات يې لیدلي وي ، په ځینو عصبي ناروغیو اخته کیږي خصوصاً د صرعې . په عامه اصلاح میرګی او د هغه ناروغي ده چې یو زیات شمیر جنګي مصدومین او معیوبین ورسره مخامخ دي او په دې ناروغي اخته کسان مجبور دي چې د ځینو درملو د دایمي استعمال لپاره شرایط ولري او دا امکانات ورته تهیه شي .

دا ډول عصبي حملې او عصبي تشنجات خورا خطرناك وي او په دې ناروغۍ اخته کسان نه شي کولای مستقل پریښوول شي ؛ د کار په محیط او ورځنیو مصروفیتونو کې څارنه غواړي ځکه چې په هر ځای او هر وخت کې د دې امکانات موجود دي چې په میرګیو اخته شخص باندې حمله راشي او دا حمله ناروغه له منځه یوسي . د جګړې د مستقیمو فزیکي ترضیضاتو له کبله په افغاني ټولنه کې زیات شمیر ماشومان او ځوانان په دې ناروغیو اخته دي او له بده مرغه کوم مؤثر امکانات چې د ناروغۍ د تشخیص او پاملرنې لپاره ورته اړ یو په ټول افغانستان کې نه لرو .

د رواني طب پوهان او اکثره څیړونکي په دې عقیده دي چې جګړې د ټولنې په ټولو برخو لویانو ، ځوانانو او ماشومانو جلا جلا اغیزې لري او د ټولنې په منځ کې ماشومان له ټولو زیات د جګړې د ناوړه اغیزو ښکار کیږي ځکه چې ماشومان د خپل ماحول او چاپیریال څیرك کتونکي دي او مستقیماً د خپل چاپیریال تر

تاثیر لاندې لوېږي .

پلار او مور د ژوند د حوادثو په هکله زیات کفایت او تجربې لري او له همدې امله د ځینو پیښو په مقابل کې د هغوی مقاومت زیات وي . اما برعکس ماشومان لوړی له خپل پلار او مور څخه زده کوي او د هغوی شخصیتونه ورته د سمبول په توګه ترمخ ولاړ وي او بیا د خپل کلي او ماحول جګړه دا محیط ړنګوي او په مختلفو تشنجاتو او کړاوونو کې یې رابنکیل کړي ، دا طبیعي محیط په یو غیرطبیعي محیط بدل شي او یا دا چې د ړنګیدو او کنډوالو شکل غوره کړي او یا دا چې د خلکو دا کتله یو بل نوي او ناآشنا محیط ته وکوچیږي . دا پروسه په خپله د ځینو رواني پرابلمونو په رامنځته کولو کې نقش لري او کیدای شي.د والدینو په نسبت د ماشومانو لپاره د زیاتو رواني او شخصیتي ودې په برخه کې مشکلات رامنځته کړي .

د جنګ ځپلې ټولنې ځوانان له داسې حالاتو سره مخامخ شي چې خپل نورمال محیط له لاسه ورکړي او د زیاتو محرومیتونو له امله په ناوړه رواني او بالاخره په اعتیاد اخته شي .

د ژوند له لومړنیو اړتیاوو سره د کورنیو مخامخ کیدل هغه رواني اضطراب او مأیوسۍ ته زمینه برابروي چې کیدای شي د جګړې دوام او د وسایلو او امکاناتو کمښت او نشتوالی په کتلوي ډول د رواني پرابلمونو ایدیمي رامنځته کړي .

جګړه د کورنۍ بنسټ ورانوي او بشري کتلې له ډیرو ستړتیاوو او کړاوونو سره مخامخ کوي په هغه خلکو کې چې له پخوا نه رواني مشکلات موجود وي او ځینی خلک له پخوا څخه

يو لړ روحي پرابلمونه ولري د نويو بدو شرايطو په رامنځته کيدو ژر له رواني او عصبي پرابلمونو سره مخامخ کيږي .

د جګړې له امله د کورنيو د بيوزلۍ او د محيط د بدليدو له امله د ماشومانو په پالنه کې زيات مشکلات د دې سبب شي چې ماشومان بی سرپرسته لوی شي او د يو خپل سري ماحول له مخې په شخصيتي لحاظ د رواني مسايلو په مقابل کې لږ مقاومت لري.

د رواني پرابلمونو له مخې د دوه عمده ګروپونو په ويشنه زيات روان پوهان او د عصبي ناروغيو متخصصان سره متفق دي.

لومړۍ ډله : هغه کسان چې د دې شکايتونه د لږې مودې لپاره رامنځته شوي وي او په يوه ساده پاملرنه له منځه ځي او ځينی وخت کيدای شي په ځينو ناروغيو هم اخته شي . دا شکايتونه کله ناکله د وحشتناکه او وړو ونکيو خوبونو کتل ، ژر ستړي کيدل ، بيخوبي ، زيات غُصه کيدل ، په ماشومانو کې زياته ويره او د ژبې بنديدل . د ګنګيت او سر دردی رامنځته کيدل د وينې د فشار او د زړه ټکان پيدايښت ، د کار نه ستړيا او بيعلاقه ګي . په دې ډله کې د کوچنيانو او نويو ځوانانو په برخه کې زياته پاملرنه مهمه ده .

دويمه ډله : رواني او عصبي پوهانو په دې ډله زيات کار کړی او هغه تشوشات چې بالاخره د روحي انحطاط او تولنيزو عکس العملونو سبب ګرځي او خطرناکه حالات رامنځته کيږي کيدای شي د ويرې ، وسواس او عصبي عکس العملونو په توګه تبارز وکړي . دا ډله خلك په پيشرفته عقلي ناروغيو هم اخته کيدای شي چې له اساسي پاملرنې او تداوۍ پرته يې کنترول

مشکل وي .

د رواني پرابلمونو په هکله ځینی برخې په مسلکي توګه رالنډېوو :

۱ - ویره یا (Phobia) :

ولسي متل دی : « له بلا هر څوك ویرېږي څوك حال وایی او څوك نه » .

ټول هغه خطرونه چې د مرګ ، ژوبلې سبب ګرځي ویروونکي حالات رامنځته کوي . د جګړې ویروونکي تأثیرات په هر سِن کی موجود وي ، خو د ماشومانو لپاره ویره تر کاهلانو زیاته راپیښیږي . هغه کسان چې د جګړې د تخریبي ساحې شاهدان دي د ویرې شدت ورته زیات پیښیږي . یوه داسی عنعنه یې او ترلې تولنه او د یوې داسې جګړې رامنځته کیدل چې د بشري ټولو قوانینو او منلو نورمونو هیڅ رعایت ور کې نه و موجود ، ټولنه یې له سختو ویروونکیو شرایطو سره مخامخ کړه او د زیاتو ماشومانو ، میندو ، پلرونو د روحي ثبات له منځه وړلو مساعده زمینه د جګړې او د جګړه مارو د وحشتونو له امله په کورنیو مسلطه شوه .

له محیط او چاپیریال څخه ویره ، د نه مصؤونیت ویره ، د ژوند او د کار د ساحې له منځه وړلو په برخه کی ویره . د کورنۍ یو غړی یی له جُرمه بندي شو ، ټوله کورنۍ په ویره اخته شوه . د دې ویرې ناوړه تأثیرات د کورنۍ په ټولو غړو کې رامنځته شول ، ولې ماشومانو ته یی ناوړه اثرات زیات وو .

له بند او شکنجې څخه د ویروونکیو حالاتو رامنځته کیدل او

غیر بشري شکنجې ، لوږې او توهیني جزاګاني د استبداد د حاکمانو هغه ناوړه پیرزوینه ده ، چې ویروونکي ناوړه اثرات یې له ډېرې مودې ذهني اضطراب حالات رامنځته کوي . یو مثال رالیکم :

زما خوني ته یو تن له خپل ماشوم سره راغی چې د ناروغۍ ماندینی او زخمي لور په هکله راسره خپل مشکلات بیان کړي . د خونی په یوه کونج کې زما د ماشوم بایسکل ولاړ و هغه ماشوم د پلار له غیږ څخه ور روان شو چې بایسکل راواخلي ، ما د چت پکی سویچ کړ ، کله چې پکی په حرکت شو ماشوم بې اختیاره په چیغو شو او په خورا هیجاني توګه یې د پلار خوا ته منډه کړه او چت ته یې کتل .

پلار یې په آرام کړ او خپله کیسه یې راته شروع کړه :

دوی وویل چې : زموږ په سیمه کې ډېره سخته جګړه ونښته ، کلي بمبارد شو ، زه له خپلو ماشومانو سره د جالې په واسطه د کوټې له سیند څخه راپورې وتم . موږ د سیند منځ ته رسیدلي وو چې یوه ګنشپ په موږ ډزې وکړې . زما یوه لور مړه شوه او په سیند کې ولویده ، ښځه مې زخمي شوه او بله لور مې هم زخمي شوه چې دواړه اوس دلته بستر دي . دا ماشوم خیال وکړ چې بیا هغه ګنشپ راپورته شو ځکه دومره وویرید .

ماشومان نه شي کولای چې ویره پوره بیان کړي ، ولې ویره تر ډېرې مودې پورې د دوی له ذهن څخه نه وزي .

۲ - بدني او ذهني ناآرامتیا :

دا حالت د رواني طب خورا جدي برخه بولي . کله چې یو

انسان په اضطراب اخته شي سکون له لاسه ورکوي او خپل نورمال او روان فعالیت نه شي ترسره کولای . زیاتره کسان ذهني تمرکز له لاسه ورکوي . ناارامه ، مشوش او په یو ځای نه شي تم کیدای هره شیبه خپل ځای بدلوي ، ځینی وخت یو خوا بله خوا مندی وهي داسي بریښني ، لکه چي څه تري ورك شوي وي . د اضطراب د زیاتوالي په نتیجه کي د ویری (Phobia) حالت پیښیږي . له بده مرغه دا هره مرحله له ځان سره نوي خطرات رامنځته کوي او په پرله پسي توګه د رواني او ذهني ناروغیو سبب ګرځي .

په ویره او اضطراب اخته کسان خصوصاً ماشومان د کورنیو لپاره ډیري ستونزي راپیدا کوي او ځینی کاذب مرضونه هم په دی کسانو کی تظاهر کوي . زیات مشوش روحي او رواني حالات د ډول ډول هضمي او د بدن د دردونو په توګه ځیني کسان مجبوروي چي د بې ځایه معاینو او تداوی لپاره هري کلنیکي برخي ته او د مختلفو روحي پرابلمونو مرکزونو ته ځي او له بنډل نسخو سره ګرځي . له بده مرغه همدا ناوړه رواني تشوشات چي د کورنی له خوا جدي نیول کیږي او زیاتی ستونزی رامنځته کوي . د جګړي او بي سرنوشتی له امله په ځوانانو کی د اضطراب په نتیجه کی د کاذبو دردونو او خطرناکو ناروغیو حالات رامنځته کیږي چي کله بیا د هستریك حملاتو ، رندیدو او د هضمي جهاز د ناروغیو په شکل تبارز کوي .

۳ - وسواس او تجرید :

د جګړي او د ژوند د نورمال محیط له لاسه اکثره ځوانان او مشران په وسواس او مختلفو رواني تشوشاتو اخته کیږي .

زیاتره ماشومان چې د خپلې کورنۍ نظم له لاسه ورکړي ، د تجرید سره مخامخ شي . هغه کورنۍ چې له خپل محیط څخه لیرې شي زیاتره ځوانان او ماشومان یې له یوې بې سرنوشتۍ سره مخامخ شوي . د وسواس او تشویش تر خوا زیاتره ځوانان د هغه اساسي معیارونو ، خپلمنځي دودونو او ټولنیزو ارزښتونو څخه بې برخې شي . نورمال ژوند او د یوه ښه کرکتر او سلوك نه بې برخې پاتې شي . په تجرید اخته ځوانان د اخلاقي انحراف او د مخدره موادو ښکار کیږي او د ژوند اصلي مسیر له لاسه ورکوي .

٤ - جګړې د روحي انحطاط سبب ګرځي :

هرکله چې د انسان عادي او مروجه حالات او د ژوند شرایط تغییر ومومي خفه وي او روحي دقیت ورته پیدا کیږي .

په روحي انحطاط اخته کسان نه شي کولای خپل مشکلات په منظمه توګه بیان کړي او خپلې وضعې ته تغییر ورکړي . انحطاط د ژوند په عمومي چارو کې د بې‌علاقه ګۍ حالات رامنځته کوي او له شخصي ژوند څخه محرومیت د نورا خطرناکو رواني ناروغیو رامنځته کولو سبب ګرځي . ځینی کسان چې د روحي انحطاط له امله په ذهني ناروغي مبتلا شي د ځان وژنې په فکر کې شي او کله هم دا ډول ناروغان ځان وژني .

د جګړې له امله د ژوند د محیط د له منځه وړلو په صورت کې زیاتره ماشومان ، ځوانان او لویان ذهني او روحي سکون له لاسه ورکوي .

دا ناوړه حالات مختلف عکس العملونه منځته راوړي له ذهني او روحي پلوه د خیانت او جنایت تر سرحده پورې پیشرفت

کوي . په مخدره موادو اخته کيدل ، قتل ، غلا او اخلاقي انحطاط هم په زياتو ځوانانو کې رامنځته کوي .

جګړه يو ضد بشري عمل دی چې په رواني ستونزو سربيره د نوي نسل د سلوك ، شخصيت او سالمې ودې ټول امکانات له منځه وړي .

د جګړې د تخريبي اړخ
رواني ناوړه اثرات

د جګړو له پيل نه ، د جګړې د هر ډول نظامي وسايلو په خلاص مټ استعمال د هيواد کلي او ښارونه بې له دې چې د کوم مشخص نظامي مرکز او يا د مخالفينو تم ځايونه په نخښه کړي د ځمکې او هوا له لارې د بريد لاندې راوستل ؛ دا عمليه د کودتايي جګړو د نظامي لارښودونکيو او قوماندانانو له خوا په يو ډول ترسره شوه چې خورا پراخه تخريبي ساحه يې راچاپيروله .

روسانو د لويو لارو او د کتله يي کډوالو پر ضد هم خورا خطرناک نظامي حملات سر ته ورسول چې د کتله يي وژنو سبب شوي دي . يوه نمونه يې د يو مثال په نمايش کې د بغلان د کوچيانو د ۵۰۰ کورنيو بمباردمان و چې له منځه ولاړې . د کتله

يې وژنو نورې نمونې او پېښې هم زياتې دي . موږ په تېرو مخونو کې د کونړ د کرالي د کتله يي وژنو يادونه کړې او په همدې توګه د هرات د پاڅون پر ضد د کتله يي وژنو په اوږدو کې ځينې احصائيې د زرګونو انسانانو د تلفاتو يادونه کوي . موږ په دې ځېرنه کې د جګړو د تخريبي برخې ټولې نمونې نه شو ځېرلای ، دا روښانه کول مهم دي چې هغه بشري کتلې چې مستقيماً له پېښو سره مخامخ شوې وې او په هغه محيط کې واقع وې د رواني او له روحي تشوشاتو سربيره د هغو په شخصيت او راتلونکې ناوړه اغيزې جدي پاملرنه غواړي . جګړه مارو اړخونو د ناوړه اعمالو د ټولنې په منځ کې د وېر وونکيو حالاتو او د عمومي مورال د راټيټولو په مختلفو ډولونو خپل پلانونه پرمخ وړل چې په خپل ځای د خفګان ، مأيوسۍ ، ذهني فشار ، وېرې او اضطراب سبب شي . دا د تحميلي او تجاوزي جنګ يوه برخه ده چې ټولنه يې له رواني بحران سره مخامخ کړه . د جنګ ايډيولوګان فکر کوي چې د دهشت اچونې ، وژنې او وېروونکي پلان په عملي کولو ټولنې د مقاومت او ثبات نه بې برخې کېږي ، ګډ دريځ له لاسه ورکوي ، زيات خلک يو له بله جلا کېږي . انعطاف او روحي انحطاط د بې پروايۍ او بې تفاوتۍ پيدا کيدو لور ته خلک تشويقوي او د سالمو کرکټرونو د له منځه وړلو لارې هواروي . يو ژوندی انسان په تش کالبوت بدليږي او يا دا چې د فرار روحيه د پوازيتوب او انزوا سبب شي او دا حالتونه د رواني تشوشاتو ترڅوا د يو لړ نورو تشوشاتو او طبي پرابلمونو لپاره لار اواروي او په دې ډول حالاتو اخته خلک هم د ځان او هم د ټولنې لپاره درد سر شي .

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

د کودتایی رژیمونو او د تحمیلي جګړو په اوږدو کې له یوې خوا او د روسانو د لښکرو له تجاوز سره جوخت د جګړې وسایلو په مختلفو ساحو کې تغییر وکړ . تخریبي پلانونه یې منتظم کړل ؛ هوایي بمباردمان زیات شو او د وسلو د تخریب په قوت کې هم زیاتوالی راغی . په دې جنګ کې عملاً له ثقیله وسایلو سربېره د پرسونل ضد ماینونه خصوصاً د ماشومانو د لوبو په شکل ماینونه هم استعمال شول . داسې شواهد زیات دي چې سمي ګازونه ، د ښبنلو د اوبو د مسمومولو کیمیاوي زهرجن مواد هم د روسي لښکرو له خوا د افغانستان په جنګ کې استعمال شوي دي . دا بحث زموږ د لیکنې مشخصه برخه نه تشکیلوي ،

يوه لوړ رتبه مرکزي ګوندي کادر چې د غوايي له کودتا نه وروسته ورته د کابل د مرکزي چارو واکمني ترلاسه وه ، وويل چې : موږ ته د شوروي مشاور لومړنی دستور دا و چې بې درنګه د ټولنې د مخورو او لوړې پايې د شخصيتونو په مقابل کې د ويرې٬دهشت اچونې او د مختلفو دسايسو په رامنځته کولو عمل وکړو .

دا هم د جګړې د عمالو بله پاليسي ده چې خپل مخامخ صف په رواني لحاظ متشنج کړي او د مختلفو پاليسيو په شکل د وهلو توهينولو ، بندي کولو ، ژوندي ورکولو ، بې پتې کولو او وژلو ترحده خلك له ستونزو او کړاوونو سنکار شول . که له يوې خوا فردي او کتله يي وژنو ، پوځي ، لښکري تيري او بمباريو ، د ژوند لومړني امکانات ويجاړ او نابود کړل او د ژوند او کار محيط آرام امکانات له لاسه ورکړل ، د کار او ژوند د ساحو خاص د علمي او اکاډميکو برخو بې ثباته کولو او د اختناق او فشار او بې پندوباره روشونو زيات آګاه او روښانه سرونه يا له منځه يوړل او يا يې ټولنه ورڅخه محرومه کړه . د جګړې د مرکزونو د جنګي ماشين تر شا د جاسوسۍ او د دسايسو تر پلان لاندې د معارف او پوهنتون برخه او د دولتي ادارو او نورو بناوو په ماحول کې هم د ويرې او اضطراب او له رواني پلوه د زياتو ناآراميو په رامنځته کولو کار وکړ .

د کودتا په لومړيو ورځو کې د کابل پوهنتون د يو پوهنځي له نوی کودتاچي رئيس سره مې وکتل هغه د کار دفتر کې شاګردان رابلل او د استادانو پر ضد يې ورته پروګرامونه ورکول .

د همداسې دسايسو په پياده کولو د علمي کادرونو د فرار او له خپل محيط څخه د ايستلو آغاز د ځوانانو د محروميت د ښکار کيدلو لپاره لار خلاصه کړه چې د تسليم روحيه خپله کړي او يا د ژوند شرايط له لاسه ورکړي .

زوی يې ووازه ، پلار يې بندي کړ او په تحقيق کې يې دومره شکنجه کړل چې نورمال رواني حالت يې له لاسه ورکړ . زما د يو دوست داکټر ښځه د خپل خاوند له بنديتوب وروسته په روحي اضطراب او رواني ناروغيو اخته شوه . پلار يې چې د خپلې سيمې يو منلی شخصيت و بندي کړ او دومره غيرانساني سلوك يې ورسره وکړ چې د رواني مشکلاتو له امله يې د اوږدې تداوی لپاره مجبور شو .

د جګړې د مستقيم تخريب وژنو او د ژوند د محيط له لاسه ورکولو رواني اغيزې ، اضطراب او هيجانات د هر عمل په هکله په جلا جلا شکلونو او د مختلفو رواني او حتی عصبي ناروغيو په توګه تبارز کوي او د ټولنې په مختلفو برخو کې يې تأثيرات مختلف وي . د مړو د نږديوالو ، د محيط د خلکو او په خپله د وژلو او د اختناق او دهشت اچونې په عاملينو کې رواني پرابلمونه رامنځته کوي . د ژوند د محيط له لاسه ورکول د خپل ټاټوبي او د کار د وسايلو له منځه تلل ، بې کوره کول ، بې واکه کول هغه خطرناکه عوامل دي چې د رواني پرابلمونو د رامنځته کولو سبب ګرځي او په اسانه او ساده توګه د انسان له ذهن څخه نه وزي .

منفي او تخريبي تبليغات او پروپاګنډې هم د رواني پرابلمونو د رامنځته کيدو او د شخصيت د سالمې ودې مخه نيسي .

اکثره جګړه ماري او د ولس ضد ډلي د پټو او مرموزو شبکو له خوا د منفي او تخريبي پروپاګنډو ، تبليغاتو او د ويرې او وحشت فضا رامنځته کوي . د جګړې تر شا دا ډول خطرناکه پلانونه د جاسوسي شبکو له خوا په مستقيم ډول رهبري کيږي . کی . جی . بی په افغانستان کی د اختناق او وېر وونکيو پروپاګنډو له لارې د ډيرو افغاني منورينو ، علمي او سياسي شخصيتونو او له تاريخي پلوه د منلو نورمونو په تخريب او بې هويته کولو کی کار وکړ . همدا منفي عملونه د مختلفو شبکو له لارې په افغاني ټولنه تخريبي ګوزارونه وو چې ټولنه يی له زياتو رواني تشوشاتو سره مخامخ کړه . دا پلانونه د اکثرو منورينو د له منځه وړلو فرار او د فکري انحراف سبب شول . د کرکی او نفرت فضا حاکمه شوه ؛ متحرک کادرونه او علمي شخصيتونه ترور شول ، خلا راپيدا شوه ، خپلمنځي دښمنۍ او د فرعي او غلطو لارو په لور ډيرې کتلې له فکري انحراف سره مخامخ شوې او دا ډول ناوړه منفي او تخريبي فعاليتونه د ډيرو کسانو لپاره د تحمل او برداشت وړ نه وو او د رواني تشوشاتو لپاره يی په ډيرو ذهنونو کی لار اواره کړه .

چاودني او ماينونه :

د زرګونو په شمير مختلف ماينونه په افغانستان کې کرل شوي او تراوسه پورې د ماينونو چاودنو ډيرې هستۍ په نيستۍ بدلې کړې دي او زيات شمير افغاني ماشومان ، ځوانان ، ښځې او نر يی يا له منځه وړي او يا يې مصيبتونه رامنځته کړي دي .

په ځينو ځايونو کې چې باروت او وسلې ذخيره شوې دي غټې

چاودنې شوې او پراخه ساحې تخریب شوې دي او زیاته برخه انسانان په کتله يي شکل له منځه تللي دي . یوازې د تیرکال د حوت د میاشتې د جلال آباد د امنیې قوماندانۍ په چاودنه کې ۲۹۸ تنه هیوادوال والوتل . د چاودنې اثرات د ساحې په خلکو خصوصاً په ماشومانو کې د ډیرې مودې لپاره په ذهن کې پاته کیږي او هغه صحنې ژر نه شي هیرولای . د محیط خلك د ډیرې مودې لپاره د چاودنې په ساحه کې په ډاډه زړه نه شي گرځیدای .

ماینونه هم د خلکو ورځني کار او په هغو ساحو کې د فعالیتونو د ترسره کولو عملیه له رواني تشوشاتو او ویرې سره مخامخ کوي . دا ویره او تشوشات د رواني مسایلو په رامنځته کولو کې رول لري او دا ډیر واقع شوي چې د کار په محیط کی د ماین چادونه د انسان د مرگ او معیوبیت سبب شوې ده .

له ماینونو او د جگړې څخه راپاته جسمي او فزیکي معیوبیتونه که له یوې خوا د فزیکي ناسالمتیا سبب گرځي له رواني او عصبي پلوه د ډیرو تشوشاتو او ناروغیو سبب گرځي . دا مأیوسه حالتونه او مجبوریتونه یو سالم انسان له فقر سره مخامخ کوي او دا محرومیت د رواني او عصبي رېړو لپاره یوه مساعده زمینه برابروي . معیوبیتونه د رواني ستونزو او د عصبي ناروغیو په رامنځته کولو او د مخدره موادو د اعتیاد لپاره مساعد شرایط رامنځته کوي . او زیاتره معیوبیتونه د لوږې او قحطۍ په رامنځته کولو سره د مجبورو انسانانو لپاره د اضطراب او عصبي ناآرامیو حالات مسلط کوي .

PROPERTY OF ACKU

نور عوامل :

د جګړې د ښکار شوو انسانانو په چاپېریال کې که د لوږې او قحطی تر خوا د غارت او چپاول عنصر مطالعه کړو وینو چې په خپله چور او غارت د ټولنې په ټولو قشرونو کې د رواني تشوشاتو په بیلا بیلو شکلونو کی د سن او موقعیت له پلوه تبارز کوي.

غذایی فقدان ، غیرصحي محیطونه د وسایلو او د ژوند د امکاناتو محدودیتونه ، د ځای بدلول او د اوسیدو شرایط له منځه تلل هغه عوامل دي چې د رواني ربړو او د عصبي تشوشاتو او ناروغتیاوو کی نقش لري .

د جګړو او وژنو او د تخریبي وسلو پراخه استعمال د ژوند د محیط او د غیرصحي شرایطو په رامنځته کولو کی افغاني ټولنې ته ډیر کړاوونه را په برخه کړي دي او دا کړاوونه د رواني او روحي پرابلمونو او د صحي او روغتیایی ستونزو او حتی د ساري او وژونکیو ناروغیو لپاره مساعدې زمینې وې . د زیاتو میندو شوده په تیونو کې وچ شول او زیاتې میندې د نورمالو ماشومانو د زیږیدو په تمه مړې شوې . په ګرمیو ، یخنیو کی د ماشومانو ډلې مړې شوې او دا رنځونه او کړاوونه چې د جګړې د پیرزوینې په توګه زموږ په ټولنه مسلط شول د زیاتو رواني تشوشاتو او عصبي ناروغیو مساعد حالات بلل کیږي .

د مستقیمې جګړې تر شا د ترور او اختناق پالیسي او روان دسایس هم د رواني پرابلمونو سبب شوي دي . یو ډاکتر راته د نژدې ورځو د شکنجو کیسه وکړه . ده ووېل چې : په یو کانتینیر

کې د بندیانو شمیر تر دې حده و چې ښنگ په ویده شول دري تنه به ولاړ پاته شول .

ده وویل چې : یو تن سوزاك و او یو تن په هضمي تکلیف (اسهال) اخته و . دوی باید خپل رفع حاجت او موږ ټولو په همدې ځای کې ترسره کړی وای دا د صحنې یوه برخه ؛ بله برخه د تحقیق او شکنجو وه چې د تحمل وړ نه وه او هیڅوك په دې قادر نه و چې بې هوشه دې نه شي .

د خپلمنځي وژنې ، ناامنۍ او د مختلفو شبکو له خوا د افرادو ترور هغه عملونه دي چې د رواني تشوشاتو او د مختلفو ربړو سبب گرځي . دا ناوړه عملونه ترور شوي کسان او د ترور عاملین ډیر ناآرامه کوي او فشار اواضطراب او د لیونتوب حالات رامنځته کوي . زیاتره تروریستان رواني ناروغان دي او زیاتره یې (سادیست) دي .

ترور :

ترور هغه ضد بشري عمل دی چې د جگړه مارو او استبدادي شبکو او ډلو له خوا د حربې په توگه استعمالیږي . افغاني ټولنه کې زیات شخصیتونه او بې شمیره ځوانان په دې وسیله له منځه ولاړل او د بې سرنوشته وژنو او بندي کولو له لارې په مختلفو برخو کې بې شمیره افغانان تري تم شول چې د چاپیره خلکو لپاره یې زیات رواني تشوشات او کړاوونه رامنځته کړي دي . ډیرې کورنۍ د خپلو ورك شویو کسانو او ډیرو ډلو د خپلو ورکو شویو ملگرو له مړي او ژوندي نه تراوسه نه دي خبر او دا ډول فشارونه د زیاتو رواني ربړو لپاره مساعده زمینه رامنځته کوي .

ډيرې پيغلې چې نامزد شوې دي بيا بې سرنوشته شوې دي او د مستقيمو روحي فشارونو ښکار شوې دي . د جګړه مارو او خپلسرو قوماندانانو په شخصي بنديخانو او د شکنجو په مرکزونو کې هم د زياتو کسانو د روحي او عصبي سيستم نورمال حالات له منځه تللي دي .

د شکنجو په مرکزونو کې جلا جلا مراحل او جلا جلا فشارونه ترسره شوي او لا ادامه لري . او هر څوک چې د شکنجې د مرکزونو نه تيرېږي بايد کم تر کمه درې مرحلې تيرې کړي .

د تحقيق او پوښتنو مرحله :

دا خورا تر ټولو خطرناکه او وحشتناکه صحنه ده . توهين ، ځورول ، په نمناکه زمکو اچول ، بيخوبي ، روحي شاك ، ښکنځل ، بد ويل ، وږي ساتل ، د مالګو اوبه ورکول ، د کورنۍ په غړو تجاوز ، تيل داغ کول ، نوکان ايستل ، کيبل وهل ، برقي شاك او د لمر لاندې سيځل او د پلچرخي او خاد شکنجې .

دويمه مرحله د توقيف او نظارت :

چې دا پخپله د يو روحي عذاب د شپو او ورځو سبا کول وي او ځينی کسان په يو بی سرنوشته او حتی بې محاکمې د اوږدو ورځو لپاره د ضجر لاندی پاته شوي دي او د سرنوشت د ټاکنې مرحله د فردي او کتله يی وژنې په توګه ترسره شوې او په ډله ييزه توګه ډير انسانان له منځه تللي دي او حتی د تراکتورونو په واسطه ژوندي انسانان تر خاورو لاندی شوي دي . له دې ساحو څخه يادونې او هغه کسان چې د دې ساحو نه راوتلي او يا يی دا برخې کتلي ويلای شو چې د رواني اضطراب او له روحي پلوه د

دي انسانانو زيات شمير ته بايد پاملرنه وشي . له همدې امله د زياتو رواني او د عصبي ناروغيو متخصصينو رايه دا ده چې که د افغاني ټولنې روحي او رواني پرابلمونو او تشوشاتو ته جدي پاملرنه ونه شي د يوې خطرناکه اپديمۍ د رامنځته کيدو خطر موجود دئ .

د جګړو د پوچ منطق خطرناکه ګوزار په ټولنه کې د بشري ابتدايی حقوقو له منځه وړل دي . د لومړنيو بشري حقوقو له منځه تلل او د ژوند لومړني سهولتونه محدودول د شخصيت نورمالی ودې او د ژوند عمومي انکشاف ته ډير تاوان رسوي او ټولنه په رواني لحاظ له ډيرو مسايلو سره مخامخ کوي .

له يوې خوا د جګړو په اوږدو کې د ژوند ، کار او د ټولنيزې ودې امکانات له منځه تللي او له بله پلوه د جګړو عاملينو د اختناق او استبدادي پاليسيو له کبله ټولنيز شرايط دومره محدود شوي دي چې زياتره خلك د کار ، زده کړې او د زيست له محيط څخه محروم دي چې دا حالات د بيلا بيلو رواني او روحي پرابلمونو سبب ګرځي .

د ټولنې ماشومان ، مشران ، ځوانان ، معيوبين ، يتيمان ، ښځې او بوډاګان يو مخه د لومړنيو بشري حقوقو په لړ کې بې شميره ستونزې او محروميتونه لري چې دا محروميتونه که له منځه لاړ نه شي د زياتو رواني او روحي ستونزو د رامنځته کيدو سبب ګرځي .

همدا اوس دا ډيره مشکله ده چې ډيرې کورنۍ په دې پوه شي چې د دوی زامن او لو ڼی چيرته دي ، د زندانونو او د شکنجو

مرکزونه موجود دي . د ښځو او ماشومانو د روزنې او لارښوونې لپاره منظم پلان نشته ، په رواني ستونزو او ناروغيو اخته کسان نه مرستون لري او نه د معيوبينو لپاره په ټولنيز ژوندانه کې د جذب د تقويې لپاره امکانات موجود دي . زياتره ځوانان د مخدره موادو په آزاد مارکيټ کې اوسيږي ، د ټولنيزو جرمونو او جناياتو ښکار کيږي دا د جګړې د ميراثونو هغه خطرات دي چې د رواني پرابلمونو د مختلفو پيښو سبب ګرځي .

جګړو د شخصيت د سالمې ودې امکانات تخريب کړي دي . اړتياوې او غوښتنې د جګړو له امله هم زياتې شوي او هم بدلې شوې دي . بدمرغي د انسان د خوشحالۍ مخه نيسي ، اړتياوې يې په سلوک تأثير کوي . روان بحران کې د ټولنې اکثريت د خپلو اړتياوو او غوښتنو په ترلاسه کولو کې نه بريالی کيږي . اړو شوو پرګنو کې چې ځانګړې مسألې د مختلفو رواني تشوشاتو په رامنځته کولو کې رول لري ، د شخصيت د سالمې ودې او بالخصوص د ماشومانو او ځوانانو د رشد لپاره د ژوند مناسب وسايل او د روزنې امکانات لازم دي چې له بده مرغه په افغانستان کې د بې دريغه تخريبوونکو جګړو او د جګړو له‌ساحو څخه د پناه په محيطونو کې بيا په خپله نوي حالت او شرايط په خلکو مسلط شوي چې له رواني او روحي پلوه د مقاومت د راکښته کولو او د مأيوسۍ او بيوسۍ په شکل تبارز کوي . د رواني علم پوهان د انسانانو د قابليت ، استعداد ، د شخصيتونو د ودې او نمونې ، روزنې په هکله په دې باور دي چې وراثت او محيط د هر فرد لپاره ځانګړي خصوصيات ورکوي ، ولې د جګړو

تخریب او ټولنیزی را په برخه شوی ستونزې او اړتیاوې یو ډول غوښتنی رامنځته کوي او زیاتره خلکو کی له نورو سره برابري یوه ګډه غوښتنه ده او هر څوك هڅه کوي چې خپل مسایل حل کړي او ځان خوشحاله کړي او که محرومیت او د اړتیاوو او غوښتنو امبار جوړ شي مأیوسه انسان اعتماد له لاسه ورکوي او د اضطراب او بالاخره له روحي انحطاط سره مخامخ کیږي .

د افغانانو لپاره به د جګړو د تخریبي میراثونو په لړ کې د دې حالاتو نه د راوتلو په لار کی ډیر رواني او روحي مسألې ور په برخه وي او همدا اوس په هیواد کی دننه او له هیواد څخه بهر د تبعید او مهاجرت په کمپونو کی او د نړۍ په مختلفو متمدنو او لیری قارو کی د افغانانو شخصي ، خصوصي او ټولنیزې اړتیاوې او غوښتنې دومره زیاتې او درنې دي چې اکثره ځوانان او حتی مشران له جلا جلا رواني او روحي پرابلمونو سره مخامخ دي . هغه برخه چې له ډاکتر سره د طبي مشورې امکانات لري مرسته ترې غواړي ، ولی اکثریت نه شي کولای د خپلو مشکلاتو د حل او له منځه وړلو لپاره کوم ځای او شرایط ولري . د دې ساحې خطر د شخصیت د نورمالې ودې په برخه کې د هغو بې وطنه او محرومو افغاني ماشومانو ته متوجه وي چې د مقابلې روحیه یې نه تقویه کیږي او د مستقیمو اړتیاوو د لرې کیدو لپاره ټولنیزو اړتیاوو په برخه کی ناکام شول د اضطراب احساس رامنځته کیږي او تر زیاتو مودو د انسان په روان کې پاته کیږي او یا د عکس العملونو په شکل تبارز کوي .

د افغاني ټولنې لپاره د ډیرو ستونزو په رامنځته کولو کې د

نو د هغې له زياتې څېړنې نه ډډه کوو ، ولې د جنګ په ډګر کې د وسلو د استعمال له مخې چې کوم ډول وسلې او تخريبي وسايل موجود وو لنډه يادونه يې کوو :

۱ - په هيواد کې د روسانو هر ډول هليکوپټر الوتکې (توپ لرونکې او بمب غورځوونکې) او روسي مختلف ډوله جيټ ، ميګ ۲۱ ، ۲۳ او ۲۵ استعمال شوې دي .

۲ - مختلف ډولونه زرهدار ټانکونه او زرهپوش ټانکونه خصوصاً (BM 21- او LAM 13-) په کليو او بانډو وروختل .

۳ - مختلف ډوله توپونه (DC 130-) ، غرني هاوانونه ، وسط او نور استعمال شوي دي .

٤ - پياده وسلې ، لکه : کله کوف ، کلاشنيکوف ، ثقيل او خفيف ماشيندار ، راکټ لانچر PRO 7- ، ۸۲ ملي متري راکټونه ، داشکې ، ليرې ويشتونکې پيکه ، ROP ټوپکونه .

۵ - مختلف ډوله بمونه (ناپالم ، خوشه يې بمونه ، تخريبي بمونه ، ګاز لرونکي بمونه ، د اوبو مسموموونکي بمونه) .

٦ - مختلف ډوله ماينونه ، د ماشومانو د لوبو د سامان په شکل ، زهرجنې ګاز لرونکې مرمۍ .

۷ - د کورونو او کليو د سوځولو لپاره د اور اچوونکيو وسايلو استعمال .

په جنګ کې د وسلو او مختلفو وژنو او ويرونکيو وسايلو استعمال په ولسي خلکو له خپل تخريبي او وژونکي قوت سربيره چې مستقيماً يې کلي ړنګول ، خلك يې زخمي او معيوب کړي ،

جګړې د مستقیمو او له جګړې څخه د راولاړو شوو واقعیتونو د اساسي او پراخه څېړنو د اړتیاوو او اهمیت په خپل ځای، ولې د روزنې او عصبي خدماتو رامنځته کول خورا جدي پاملرنه غواړي او د مختلفو تخصصي او مسلکي ادارو جوړولو لپاره باید جدي عمل وشي . د مخه هم کوم خاص امکانات نه وو موجود ، یوازې محدود امکانات وو چې هغه هم د جګړو د تخریب ښکار شوو او د ګوتو په شمیر تخصصي کادرونه وو چې مشران یې مړه شول او ځوانان فرار . د جنګ نه رامنځته شوی سندروم - چې همدا اوس یې د ټولنې زیات شمیر په رواني مرضونو اخته کړي - نه یوازې دا چې ورته د رواني خدماتو مرکزونه جوړول غواړي ، بلکه د یو افغانستان شموله پلان لپاره باید ملي او بین المللي اداري ګډ کار وکړي او د ګډو حل لارو لپاره مناسب تدابیر عملي کړي .

اعتیاد د جګړې بل میراث دی

د جګړو په اوږدو کې د مخدره موادو آزاد مارکیټ او د هیرویینو په رامنځته کولو کې مختلف نظرات موجود دي ؛ ځینو څیړونکیو دا هم ویلي دي چې د مخدره موادو په رامنځته کولو کې د جګړې ایډیالوګانو د یو مشخص پلان لاندې عملي کارونه سر ته رسولي او مخدره مواد د جګړې د وسلې په توګه مطرح شوي چې ګویا د دښمن قوتونه په مخدره موادو اخته کړي او له دې لارې څخه به د دښمن صف کی ضعف رامنځته کړي او ټولنیزه ستونزه به ور په برخه شي . څیړونکي دا هم وایی چې د مخدره موادو له پولی پښتوانی نه د جګړو د مصارفو د راپیدا کولو لپاره هم کار اخیست شوی دی . د افغاني ټولنې د ځوانانو پر ضد د

مخدره موادو د آزاد مارکیټ راپیدا کیدل د ۱۹۸۰ کال نه شروع شوی او د ښار او کلیو لپاره یې جلا جلا مخدره مواد رانقل شول . په دولتي ساحو او ښارونو کې الکول ، درملي اعتیاد راوړونکي مواد او په سیمو کې چرس ، تریاك ، هیروین ، مخدره مواد که له یوې خوا یې د افغاني ټولنې ځوانان له پښو وغورځول او زیات شمیر معتادین مړه شول ، له بله پلوه د افغانانو پر ضد هم خورا د یوې مختورنی حربی په توګه په نړیواله سطحه وربانديې کار وشو چې لا دوام لري . زموږ له لیکنې سره د مخدره موادو او د اعتیاد په لړ کې د جګړې د میراثونو په توګه متوجه کیږو چې واضح کړو چې د اعتیاد لپاره د جګړې تخریبوونکو حالاتو څومره زموږ د ټولنې ځوانان په مستقیم او غیرمستقیم ډول ورسره مخامخ کړي دي او زیات شمیر همدا اوس د هیروینو ، چرسو ، الکولو او یو شمیر غیرلازمي درملي مسکنانو او خوب راوړونکیو تابلیتونو ته اړ شوي دي او د بیوسۍ په حالت کې پراته دي .

افغانستان او مخدره مواد

د جګړې ادامه که له یوې خوا مستقیماً د افغانانو د له منځه وړلو او د هیواد د تخریب سبب ګرځي له بله پلوه په جګړو کې ښکیل قوتونه او د هغو سیمه ییز او نړیوال انډیوالان افغانان د جګړې مجرمان بولي او د افغاني هویت پر ضد همدا جګړه په رواني لحاظ ټولنه له یوې خطرناکې بیوسۍ سره مخامخ کړې ده چې دا بیوسي د باوقار شخصیت له لاسه ورکول دي . جګړو د افغاني ټولنې هغه صفتونه او موقف ته خورا جدي ضربه ورکړه چې د سولې ، ورورولۍ او د آزادیخواهۍ سمبول ګڼل شو . د همدې جګړې په ادامه کې د مرګ سوداګران د مخدره موادو د مارکیټ او له مخدره موادو څخه د جنګي حربې په توګه

مطرح کولو داسې حالات رامنځته کړل چې افغانستان د (طلايي هلال) د خورا خطرناکه برخه وال په توگه د (طلايي مثلث) تر خوا ودريږي . افغانستان ، ايران او پاکستان د مخدره موادو د توليد او قاچاق عمده مرکزونه بولي او طلايي هلال نوم ورکوي . برما ، لاؤس او تايلند طلايي مثلث بولي . د جگړو او د روسي لښکرو د تجاوز په دوام د هيروينو د جوړولو پروگرامونه په سيمه کې پراخه شول . او په سيمه او افغانستان کی د آزاد مارکيټ په فعالولو کې د ډالرو د گټې دروازې خلاصې شوې . په افغانستان کې مخه هم د چرسو او کوکنارو کرل رواج وو ، ولې د هيروينو مارکيټ او د کوکنارو د قيمت او نقل ورکولو مساعد حالات د مخدره موادو د سوداگرانو لپاره له يوې خوا او د مالي امکاناتو د ترلاسه کولو په خاطر (ډرگ مافيا) د نړيوال ځنځير په شکل شرق او غرب سره وصل کړ .

له تارياکو څخه د هيروينو د جوړولو تخنيکي پلانونه او د کيمياوي موادو او تيزابو د پريماني له امله په سيمه کې زياتې کارخانې جوړې شوې او کلي په کلي د دې بې تکليفه ډالر جوړونې هلو ځلو زور واخيست چې همدا اوس د افغانستان په داخل کې په ځينو سيمو کی د هيروينو جوړولو لپاره مرکزونه جوړ شوي دي . د مخدره موادو د اعتياد خطر سره افغاني ټولنه مخامخ ده او همدا اوس د افغانستان د مختلفو سيمو ځوانان او سنځې په هيروينو اخته شوې او دا شمير مخ په زياتيدو دی . د مخدره موادو د توليد او قاچاق مسألې هم هغه اجتماعي او ټولنيز تخريب رامنځته کړی چې د فقر او بدبختی جدي خطر گڼل کيږي او

د افغاني ټولنې د بین المللي موقف پر ضد همدا مخدره مواد د حربې په توګه استعمالیږي چې افغانستان په نړیواله سطحه د خلکو د کرکې سره مخامخ کړي .

که مور د جګړې د عمالو او د جګړه مارو یو اړخ ته ګوته نیسو د مخدره موادو پیوند د جګړه مارو هغه بل لاس دی چې ټولنه د مرګ خوا ته بیایی او له همدې کبله د هیروینو او مخدره موادو ډله ییز یرغل ته هم جدي پاملرنه په کار ده ، که جګړه رواني پرابلمونه رامنځته کوي ، د مخدره موادو اعتیاد خصوصاً د هیروینو اعتیاد انسان کاملاً بې ارادې کوي او په صحي لحاظ یی له فعالیت څخه وباسي او د مرګ سبب ګرځي .

د مخدره موادو لاس خلاصي مارکیټ او له هیروینو څخه د زیاتو پیسو ترلاسه کول د تاریاکو او چرسو د کرنې سکتور ګړندی کړ اوله ٪۶۰ څخه زیات په زراعتي زمکو کې کوکنار کرل کیږي . له کوکنارو سره د بزګرانو لپاره دا چانس ترلاسه کیږي چې د فصل د رسیدو نه د مخه وړاندې پیسې اخلي . او د قاچاق لپاره یې د سیمه ییزو ساحو ګډې ډلې په اسانۍ هغه د هیروینو کارخانو ته رسوي . د روسي لښکرو د تجاوز په اوږدو کې د هیروینو د تولید او د تاریاکو د قاچاق له لارې د پاکستان ، ایران ، ترکیې او د عربي حوزې له لارې او اروپا ته د ترکیې له لاري تر سره کیده ، ولی د مرکزي آسیا د نویو سیاسي حالاتو او د روسیې د امنیتی او اداري تشکیلاتو له تغییر سره سم ډرګ مافیا د ماسکو له لارې هم په خلاص لاس د مخدره موادو د مارکیټ شکل ونیو اوس دا لار هم ډیره اسانه او مساعد شرایط د هیروینو ، مخدره

موادو او د تیزابو او کیمیاوي موادو لپاره برابر کړي دي . هند هم په زیاته اندازه کیمیاوي مواد اوتیزاب سیمی ته انتقالوي . د هیروئینو او مخدره موادو د مارکیټ د قاچاق برخه جلا څیړنه غواړي ، ولې زموږ د موضوع په رابطه دا روښانه کول لازم دي چې که مخدره مواد او هغه وسایل چې د مخدره موادو د رامنځته کولو خام مواد دی په دومره پریمانۍ په یوه ټولنه کې موجود وي د اعتیاد لپاره د ډیرو ساده امکاناتو په حیث د ځوانانو لپاره دا لار خلاصوي چې هغه استعمال کړي .

مخدره مواد مختلف ډولونه لري او په مختلفو طریقو استعمالیږي.په افغانستان کې د تنباکو استعمال عام دی ، خلك د چلم ، سګرټ او نسوارو په توګه ترې خوند اخلي او په خپل لاس ځان په خطر کی اچوي . د سُش تکلیفونه ، ټوخی او د نسوارو په واسطه د غاښو او وریو ناروغي او کانسر رامنځته کیږي . سګرټ د چرسو لپاره لار خلاصوي او چرس بیا د هیروئینو د اعتیاد لپاره د زینې یوه پوړۍ وي . د جهاد په وخت کې د چرسو ، تنباکو د استعمال لپاره کوم ممانعت نه و او د زیاتو ډلو زلمیان په سنګر کې بههیروئینو اخته کیدلی او د مهاجرت په کمپونو کې د مهاجر بازار او له آزادو باړه مارکیټونو څخه هیروئین او نور مخدره مواد ترلاسه کول او په دې توګه زیات شمیر ځوانان د هیروئینو د وبا ښکار شول چې د جګړې سره مستقیمه رابطه لري .

د ځوانانو هغه ډله چې د افغانستان په ښارونو کې اوسیدل د الکولي مشروباتو لپاره یې زیات اِمکانات لرل او زیات نظامیان او ملیشه جنګیالان د مخدره موادو شوقیان وو او په پراخه پیمانه

ورته د مخدره موادو مختلف مواد ترلاسه کیدل .

د نړیوالو ځوانانو او کمسومولانو ډلې او نورې داسې برنامې هم په کار واچول شوې چې ځوانان د انحراف خوا ته بوزي او د مخده موادو او الکولو سره یې بلد کړي .

د جګړې په اوږدو کې زیات شمیر ځوانان او خصوصاً زخمیان د غیرصحي او خپلسرې محیط په منځ کې له لازمو مسلکي طبي امکاناتو نه محروم وو او د مخدره موادو د استعمال لپاره خصوصاً د درد ضد هغه درملونه چې د تاریاکو د مرکباتو او د Narcotics موادو په توګه موجود دي بې له طبي مشورې او توصیې استعمالیدل چې د دې غلط استعمال له امله یو شمیر زخمیان او جنګي معیوبین هم په مخدره موادو اخته شوي دي او حتی داسې زیات واقعات موجود دي چې په مخدره موادو اخته شوي زخمیان او ~~حیوین~~ د اعتیاد له پیشرفته اختلاطاتو سره مخامخ شوي چې پښتورګي یې فلج شوي او مړه شوي دي .

د مخدره موادو د غلط استعمال په نتیجه کې زیاتره خوب راوړونکي درملونه او مسکنات هم د اعتیاد سبب شوي او د ټولنې مختلفې برخې په تیره ځوانان تر مشرانو په دې ستونزو کې راګیر دي .

هیروینو د جګړې د مرمۍ غوندې د ټولنې هیڅوک نه دي معاف کړي او د مخدره موادو د تخریب ساحه هم همدومره پراخه ده ، لکه د جګړې د تخریب ساحه چې د یوې کورنۍ ټول محیط رنګوي .

زما لومړنۍ ناروغ د یو با قدرته افغاني شخصیت مشر زوی

و ، هغه باقدرته افغان چې يو وخت معين و ، وژړل او د خپل هجرت دردونه يې د خپل بې ارادي او معتاد زوی د سرنوشت په تيارو کې هير کړي وو . ده وويل چې : واده يې ورته کړی ، هغه پردی لور به څه کوي ؟ يوې افغانۍ باهمته ميرمنې چې درې ماشومان يې لرل د خپل خاوند له اعتياده شکايت کاوه ، دې وويل چې : زما خاوند ډير سرتيری مجاهد و ، زه نه پوهيږم چا راپيښه کړه اوس نه جهاد پيژني نه ما او خپل ماشومان . يو معيوب د زياتو پيچکاريو د زخمونو څخه د خپل مرګ لپاره راضي شوی و د بدن اکثره غوښې يې په زخمونو بدلې شوې وې دی د Sosegon پيچکاريو عادت شوی و چې د درد لپاره استعماليږي .

د هيروبينو لوږه په اسانۍ نه رفع کيږي او خطرناکه دا ده چې په هيرويينو اخته شوي کسان يوه ورځ نه بله ورځ مقدار زياتوي او په همدې سيلاب کې لاهو کيږي .

له جګړو څخه په ميراث راپاته شوي دا بې سرنوشتی ، بې کوري او د ژوند د محيط د نورمال نظم له لاسه ورکول هغه مساعد شرايط دي چې ځوانان د مخدره موادو په تورو تيارو کې واقع کوي .

د مخدره موا د مختلف ډولونه د مختلفو خطراتو او اختلاطاتو سبب کيږي او نورې ناروغتياوې رامنځته کوي په خپله اعتياد هغه رواني رېږه ده چې له منځه وړل يې جدي پاملرنه غواړي . مونږ وويل چې : دخانيات (تنباکو) او چرس يا د تارياکو څکول د سُش د تخريب سبب ګرځي ، تنفسي ناروغتياوې

پیدا کوي ، سرطان منځته راوړي او هیروپین بیا د مرکزي عصبي سیستم او د وجود فزیکي فعالیت ټول چوکاټ د عدم کفایي خوا ته بیایي او له روحي او رواني ربړو سره سره په ټولنیز اړخ هم خطرناکه حالات رامنځته شي . منزوي ، بې ارادې او بې همته شي غلا ، جرم او په اخلاقي انحراف اخته شي ، څو د نورو ناروغیو ، غذایی فقدان او مرگ سره مخامخ شي . د شرابو معتادین هم په پرله پسې توگه خپل د څښلو مقدار نه شي کنترولای . الکولیزم یوه ناروغي ده د سلوك تغییر ، اضطراب او عقلي انحطاط هم رامنځته کوي ، د افکارو تشویش ، دسمنانه رویه رامنځته کوي ، د الکولو تسمم زیات پیښیږي ، د معدې او ځگر التهاب ، د تنفس بندوالی ، د مرکزي عصبي سیستم سقوط او د حرکاتو زیاتوالی او حتی د قلب توقف هم د الکولو په تسمم کې پیښیږي .

بالاخره په الکولو معتادین د عضوي ناروغیو ، لکه د وینې فشار ، د هورمونو د افرازاتو سقوط ، د شکر په زیاتیدو ، د ځگر په التهاب او سیروز اخته شي .

د عصبي ناروغیو په لړ کې په الکولو (شرابو) اخته کسان د مرکزي عصبي سیستم په اخلال ، د شعور په فقدان او د بیهوشۍ په رامنځته کیدو اخته کیږي .

د جگړې زخمیان ، معیوبین او په زیاتو هغه ناارامیو اخته کسان چې د وجود دردونه لري، د درد لپاره مسکن درملونه استعمالوي چې د دې مسکنو درملو یو شمیر هغه مسکن مواد دي چې د تریاکو مرکبات گڼل کیږي . په طبي مارکیټ کې د مورفین

د ژوند وسایل یی له منځه وړي . د زیست محیط یې یا کاملاً له منځه وړی او یا دا چې هلته خپله د ژوند شرایط او وسایل له منځه ځي . دغو ټولو عواملو ته چې په دقت توجه وشي، هره برخه او هره راپیښنه عملیه ځانګړي رواني ناوړه اثرات رامنځته کوي چې د انساني ټولنې د معیوبیت سبب ګرځي او دا نیمګړتیاوې او معیوبیتونه چې له فزیکي پلوه کوم حالات رامنځته کوي هغه یوه برخه ده چې مونږ یی وینو او تشخیص یی روښانه او اسانه وي ، ولې هغه تخریب او ناوړه اثرات چې د ټولنې په منځ کې له رواني او روحي لحاظه رامنځته کوي او حتی د عصبي خطرناکو ناروغیو د رامنځته کولو سبب ګرځي خوراً جدي پاملرنه غواړي او په افغاني ټولنه کې د بیا رغونې او د نورمالې او سالمې ټولنیزې غوښتنې په لړ کې ډیره جدي پاملرنه او اساسي عملي پروګرامونه غواړي ، خو له بده مرغه تراوسه هیڅ کومې ملي یا نړیوالی برخې ورته پوره پاملرنه نه ده کړې .

هیروین ، کودین مستقیماً د تاریاکو مشتقات دي او په مصنوعي توگه هم مخدره مسکنات جوړوي چې د تاریاکو د مرکباتو په توگه د اعتیاد سبب گرځي . پتدین ، میتادون ، سوسیگان (پنتازوسین) د طبي متخصصینو له توصیې نه په غیر استعمالوي چې د اعتیاد سب گرځي . تاریاك او مرکبات یې مختلف جانبي عوارض لري چې زړه بدوالی ، او کله د کانگو سبب شي او د هضمی جهاز مشکلات خصوصاً قبضیت پیدا کوي . د قلب حرکات کموي ، حتی قلب دریږي . هغه کسان چې په تاریاکو او د هغې په مرکباتو اخته شي د هغې قطع کول ورته یو لړ عوارض پیدا کوي چې درد ، اضطراب ، زړه تنگی او کانگې ، شدید ټوخی او د وینې فشار ، د بطني عضلاتو تنقصات او له اعتیاد څخه د راوتلو د سندروم ټول علایم موجود وي .

د تاریاکو په مرکباتو ، مخدره مسکناتو او هیروینو اخته کیدل د افغاني ټولنې له هغو ستونزو یوه جدي برخه ده چې له بده مرغه د هغې د کنترول لپاره مؤثر او عملي امکانات محدود دي او له جگړې څخه د راپاته شوو خطرونو په لړ کې جدي پاملرنه غواړي . څېړونکي وايی چې په افغانستان کې جنگ او هیروین سره په رابطه کی یو بل سره پیوند شوي دي . په کوم شکل چې افغانان ـه هیروینو او مخدره موادو څخه استفاده کوي پرته د مرگ نه بل انجام نه لري ، بنا پر دې دا افغانانو ته او د افغانانو راتلونکو نسلونو ته جدي خطر دی . او دا خطر په نړیواله سطحه موجود دی . له دې امله د نړیوالو سازمانونو او ادارو روان پروگرامونه که د افغاني ټولنې د مخدره موادو پر ضد فعالیتونه

په بې پلانه او بې عمله توگه او په غیرمؤثره شکل پرېږدي نه یوازې دا چې له دې خطر څخه افغانان نه شي ساتلای ، نور به هم حالات د ټولني لپاره لا زیات کړي او د مجادلې د مؤثریت مخنیوی د اعتیاد لپاره د پرمختیا لار اواروي .

دا جدي پاملرنه غواړي چې د عامې روغتیا عمومي پلان د رواني خدماتو په فعالولو کې د اعتیاد او د مخدره موادو د کنترول او مجادلې لپاره د سالمې او مؤثرې سروی او عملي خدماتو په فعالولو کار وکړي .

په لیرې سیمو کې تاریاك د مرض د درمل په توگه استعمالوي ، ماشومانو ته چې ټوخی کوي او ژاړي تاریاك ورکوي . ما په نورستان کی یو ماشوم چې د مور په غیږ کې و او په تاریاکو اخته (معتاد) شوی و ، کتلی دی .

زیات شمیر وطنوالو او پخوانیو بوډاگانو به د شپې له خوا د غنم داني په اندازه تاریاك خوړل او اکثرو د عادت په توگه نه د نشې په خاطر استعمالول . د دې تاریخچه همغه د ټوخي او دردونو د کنترول لپاره له تاریاکو څخه د مسکنه موادو په توگه استفاده وه . ځینو ځایونو کې تاریاك د هضمي پرابلمونو ، د گیډې درد او اسهال د کنترول لپاره استعمالوي .

د مخدره موادو له مسکنانو څخه - د درد د کنترول لپاره له غیرطبي لارې او له مشورې پرته متواتره - گټه اخیستل د اعتیاد خطر سره ټولنه مخامخ کوي که د درملو کنترول او د ټولنی لپاره صحي خدماتو - چې د جگړې په ترځ کې له منځه تللي او مختلف دردونه او زخمونه زموږ د خلکو په برخه دي - ته بی اعتنا

پاته شو ، نو د مخدره موادو ویا به تېولنه له پښنو وغورځوي .

مصنوعي مخدره مسکنات ، لکه سوسیگان عملاً -Pon tazocine په مارکیټ کې آزاد پیدا کیږي او د طبي پرسونل له خوا او مستقیماً د هغو کسانو له خوا - چې په جراحي پرابلمونو اخته وي - استعمالیږي . دا ډول مسکنات چې د مختلفو درملي کمپنیو له خوا بازار ته عرضه کیږي او اکثره خلك چې د درد لپاره ورته د مسکن درملو اړتیاوي ورڅخه په خلاص مټ استفاده کوي .

خوب راوړونکي مرکبات

دا درمل د خوب راوړنکیو مسکناتو او د آرام او سکون ورکوونکیو مرکباتو په توګه مارکیټ ته عرضه شوي دي . د ډیازیپام ، والیوم ، لیبریوم په نوم زیاتره ډاکټران خپلو ناآرامو او په رواني او روحي تشوشاتو اخته کسانو ته دا ډول تابلیټونه توصیه کوي . زیاتره ځوانان او پیغلې هم دا مواد استعمالوي او د مختلفو سِنونو لرونکي له دې مسکناتو او خوب راوړونکیو درملو څخه ګټه اخلي . د جګړې په اوږدو کې ډیر محروم کسان ، پلرونه میندې ، ځوانان او پیغلې چې په رواني تشوشاتو ، روحي پرابلمونو او عصبي فشارونو اخته وي د خوب راوړونکیو درملو او مسکناتو څخه استفاده کوي او بالاخره ډیر کسان د شپې ترهغه

نه شي ویده کیداي چې خپل والیوم ، لیبریوم او یا نوري دا ډول دواګانې ورته ونه رسیږي .

هغه درملونه چې د خوښۍ او آرامۍ لپاره د ترانکولایزر درملو په نوم موجود و هم د عادت حالت رامنځته کوي او ډیر په شدیدو هیجاناتو اخته ناروغان چې د عصبي پرابلمونو سره مخامخ وي دا ډول درمل ورته توصیه کوي ، د دې درملو ناوړه اثرات په خپل ځای ولې قوي ترانکلولایزر د عقلي اضطراب او د عقلي مرضونو د کنترول لپاره هم استعمالوي .

د هغو کسانو لپاره هم له داسې درملو نه ګټه اخلي چې ډیر ګوشه ګیر وي او یا په بله ژبه تارك الدنیا وي .

له بده مرغه د دې درملو سم او پرځای استعمال تخصصي کنترول غواړي او که له طبي توصیې نه پرته په خپل سر ورځخه استفاده دوامداره وشي اعتیاد رامنځته کوي . ځینې خوشالوونکي منبهات (Stimulant) دواګانې هم شته چې له بده مرغه زیاتره بې پروا ځوانان هغه استعمالوي . سره له دې چې دا درمل د عصبي جهاز د مسکناتو په توګه توصیه کوي ، ولې د دې زیات استعمال د عقلي او جسمي اضطراب سبب ګرځي او په دې مرکباتو کې کافین ، نیکوتین او مفیتامین شامل دي .

د افغاني شاه زلمو لپاره د اعتیاد بله خطرناکه نشه د چرسو او بنګو ده .

چرس چې د سګرټو او چلم څخه په استفاده له تنفسي لارې استعمالیږي او اعتیاد رامنځته کوي . د چرسو اعتیاد د تریاکو د مرکباتو په څیر نه دي . د چرسو په واسطه د زړه ضربان زیاتیږي

په تنفسي سیستم بد تأثیر کوي ، د سُش افرازات زیاتوي ، د کوچنیو ځوانانو د دماغ نسج له ودې نه باسي ، مغز ورکوټی پاته شي . چرسیانو کې د سُش کانسر ، قلبي او د وینو د رگونو ناروغي پیدا کیږي او د وجود دفاعي قوه کمزوری کوي . د نورو ناروغیو د شیوع زمینه برابروي . چرس انسان تنبل کړي ، دروا‌غجن شي او بالاخره د تنفسي جهاز اضطراب او د حرکت توازن له منځه ځي .

هغه مرکبات چې مصنوعي خیالونه رامنځته کوي د ځینو کسانو له خوا د مصنوعي خیالو لپاره استعمالیږي ، اکثره مرکبات د (L. S. D) په نوم سپین رنگه تابلیتونه دي او د استعمال خطر یی دا دی چې تشنجات ، هزیان ، اضطراب او عصبي تهیج رامنځته کوي . په دې درملو اخته کسان د قتل او نورو جُرمونو مرتکب کیږي .

د مخدره موادو کلینیکي منظره

مخکې تر دی چې د مخدره موادو د معتادینو په کلینیکي منظره څه ولیکو . د مخدره موادو د کنترول د ځینو مهمو برخو په هکله باید پوه شو . د مخدره موادو د کنترول نړیواله ستراتیژي او پالیسي په لاندې مسایلو ټینګار کوي :

* د مخدره موادو (Drug) د کنترول سیستم مؤثریت او تقویت.

* دعرضی (سپلای) او تقاضا (دیماند) ترمنځ موازنه خصوصاً د مخدره درملو (Narcotic Drug) او د منبهاتو او متبادلو درملو په برخه کې .

* د مخدره موادو د انتقالولو کنټرول او کموالی .

* دوباره فعالول او ټولنې ته سپارل .

* د مخدره موادو د کنترول سیستم تقویه او پرمختګ او د لاس ته راغلو آګاهیو ، تربیه یی او تحقیقي برخو پرمختګ او پراخه کول :

* د ګډې همکارۍ او ګډو پروګرامونو او فعالیتونو تقویه .

* د منطقه یی او ساحه یی همکارۍ د ګډ کار او پلان فعال ساتل .

په افغانستان کې د تجاوزي جګړې او د تېرلو جګړه مارو ډلګیو حاکمیت د پورتنیو پالیسیو او نړیوالې ستراتیژۍ سره کوم خاص مکلفیتونه او تعهدات نه لري او هغه پخوانۍ پرېکړې او قراردادونه چې د مخدره موادو د استعمال ، خلاص مارکېټ او تجارت د بندیز په برخه کې اوس رامنځته شوي له دولتي او قانوني پلوه منع اودکنترول د قانون ، اصولنامو او نړیوالو کنونسیونونو په برخه کې د افغانستان اوسنی حالت او موقف ته خورا زیان رسولی دی . د ۱۹۹۰ ع کال نه د ملګرو ملتونو د مخدره موادو د کنترول پروګرام (UNDCP) فعال شو چې د مخدره موادو د کنترول نړیوال پروګرام ته یې فوق العاده مستقله بودجه واخیسته او په یو لړ عملي پروګرامونو یی کار پیل کړ ، څو وکړای شي په مؤثر ډول د مخدره موادو په اړوند د نړیوال معلوماتي او تخصصي مرکز په توګه خپله دنده ترسره کړي . لازمی سپارښتني وکړي ، لازمی مرستې وکړي او خصوصاً د هغو ساحو خلك او حکومتونه په تخنیکي لحاظ تقویه کړي چې د مخدره موادو ګودامونه دي . د مخه د هغو اشخاصو لپاره کوم فعال پروګرام چې د معتاد د تداوۍ او دوباره فعالیدو لپاره کار وکړي نه و موجود او په دې وروستیو کلونو کی دا برخه هم منځته راغله ، خو له بده مرغه تراوسه لا د افغاني معتادینو د تداوۍ او بیا رغونې د

تخصصي او مؤثرو پروګرامونو او عملي ګډې همکارۍ په برخه کې زياتې نيمګړتياوې او ستونزې موجودې دي او د رواني خدماتو ، د مخدره موادو د معتادينو او د سيکالوژيکي او ټولنيزو مرکزونو نشتوالي افغاني پراخې پرګنې له سختو مشکلاتو سره بې اسرې پريښې دي . دا نيمګړتياوې له يوې خوا څخه د معتادينو د دوباره فعاليدو امکانات محدودوي او له بلې خوا له تخصصي کدرونو او نويو روزل شويو متخصصينو څخه ټولنه بې برخې کيږي .

په افغاني جنګ وهلې او ړنګې شوې ټولنې کې د مخدره موادو د کنترول د نړيوالې پاليسي د عملي پلانونو په لړ کې د پام ټکی دا دی چې پخپله د ټولنې د داخلي موجودو ستونزو او بې پروګراميو او د باکفايته او مؤثرو مرکزونو او ادارو نشتوالی له يوې خوا او د متخصصو کدرونو او شريکو ادارو په چارو کې پراته واقعيتونه ، خطرات او ستونزې په نظر کې نه نيول کيږي . که له يوې خوا د جګړو ادامه ټولنه تخريبوي او په جګړه کې ښکيل انسانان په جلا جلا رواني ، عصبي او نورو صحي ربړو اخته کيږي مخدره موادو ته پناه وړي . له بله پلوه په خپله د مخدره موادو پريماني او په خلاص مټ د هر ډول اعتياد راوړنکو موادو موجوديت د ټولنې ځوانان د مرګ خوا ته ورنژدې کوي .

د مخدره موادو مستقيم ضرورتونه :

اعتياد راوړونکي او نور مخدره مواد چې په مختلفو ډولونو ويشل شوي د انسان د وجود ځينې برخې او صحي وضعه تر مستقيم تأثير لاندې راولي او هره ماده خپل ځانګړي ضرورتونه لري .

دخانيات :

اکثره دخانيات چې له تنفسي لارې استعمال شي د حنجرې ، خولې ، سُش او تنفسي برخو د سرطان سبب گرځي .

تنباکو ، چرس او نور هغه مواد مثلاً : تارياك او هيروين چې د تنفسي لارې استعماليږي د سُش د ناروغيو سبب گرځي . په سُش کې د اکسيجن تبادله کموي ، د سُش الاستيکيت له منځه ځي ، ترشحات زياتيږي او په ٪۹۰ خلکو کې چې تنباکو استعمالوي د سُش د کانسر سبب گرځي . همدا تغييرات د انسان بدن کمزوری کوي ، دفاعي قوت له منځه ځي او د سِل ناروغي او د زړه د ناروغيو حتی توقف سبب گرځي .

په هغو ميندو کې چې حمل ولري د جنين سقط واقع کيږي .
دخانيات د انسان اشتها له منځه وړي او د هضم قوه کموي .

الکولي مرکبات (شراب) :

له عقلي ، اجتماعي سلوك او اضطراب سربيره ، شراب په حاد ډول تسمم منځ ته راوړي او د آني مړينی سبب گرځي . د وجود په حساسو اعضاوو التهابي اثر لري خصوصاً په معده او ځگر چې حگر التهاب او تخريب يوې داسې مرحلې ته رسيږي چې د (کبد سيروز) بلل کيږي او د تداوی چانس يې نشته .

هغه مخدره مواد چې له کلينيکي پلوه او د عاجلو مرکزونو د مراجعو له مخې ورته پاملرنه شوې ، په څلورو عمده ډلو ويشل شوي دي : د ترياکو مرکبات يا (نارکوتيك انلجزيك) چې د مورفين ، هيروين ، ميتادون او د دې کورنی نور مرکبات دي . ځينی د درد ضد درملونه د دوا جوړولو په لابراتوارو کې د طبي

د افغانانو د اوسنيو رواني
ستونزو عوامل

* د جنګ تخريب او عملي ساحو خورا زياتې مسألې او بې شمېره خطرونه زموږ ټولنې ته په ميراث راپرېښودلې دي . هغه ضد بشري او د وحشت نه ډك عملونه چې د چا په پلار ، زوى ، مور ، خور وروړ ، كليوال او وطنوال عملي شوي ؛ په رواني لحاظ د ټولنې د راتلونكيو نسلونو د رواني تشوشاتو لپاره يې يوه مساعده زمينه برابره كړې ده . او د دې جنګ د وحشتونو عملي تخريب اكثره كورنۍ په يوې بې آيندې او بې سرنوشته كتلې بدلې كړې دي چې د نورمالې ودې او د شخصيتونو د سالمې ودې مخه يې نيولې ده .

* ځينې عملونه چې د جګړه مارو له خوا د خلكو ترمنځ د

استعمال لپاره هم مارکيټ کې شته چې اعتياد منځته راوړي .

مرکزي عصبي سيستم ته انحطاط ورکوونکي مواد چې له باريتوراتو ، الکولي موادو څخه عبارت دی.منبهات ، لکه کوکاين او امفي تامين او هلوسينوجن مواد .

اکثره د پورتنيو گروپونو مرکبات چې په طب کې د مختلفو پيښو او د رواني او عصبي ناروغيو او د زخميانو او قلبي دردونو د کنترول لپاره هم ترې گټه اخلي د طبي او درملي خاصو قوانينو او تخصصي اشخاصو تر مستقيم کنترول لاندې استعماليږي . مورفين او هيروين چې خورا خطرناکه اعتياد رامنځته کوي تر جدي کنترول لاندی استعماليږي ، ولي جدي مسأله دا ده چې له يوې جنگ ځپلې بې سروسامانه اداري ناامني او دولتي نظم نه بی برخې ټولنو کې له مخدره موادو څخه په غيرطبي او غيرمجاز شکل د ځوانانو د ښکار کولو او د ټولنې لپاره د بې شميره ستونزو په رامنځته کولو کې ټوله نړۍ د مخدره موادو له خطر سره مخامخ شوې ده . د مخدره موادو په لست کې په مشخه ډول لاندې مواد شامل دي :

1. Diazepam
2. Alcohol
3. Heroin / Morphin
4. Unkown Substance
5. Marijona
6. LSD
7. Barbital

8. Sedatcue / Narcotic Analgesic
9. Methadou / Methaqulone
10. Chlordiazepoxide

د تارياکو مرکبات خصوصاً مورفين او هيروين چې زمونږ ټولنه يې له جدي خطر سره مخامخ کړې ده کلينيکي منظر يې په لاندې جدول کې خلاصه کوو :

کلينيکي درجه او نښې	اعراض
يو مثبت (+)	* پزه يې بهيږي
	* خوله يې د لعابو ډکه وي
دوه مثبت (++)	** سترګې يې ګرځي
	** لاسونه يې رېږدي
	** رنګ يې سور وي
	** بې اشتها وي
درې مثبت (+++)	*** ډير ناقراره وي
څلور مثبت (++++)	**** خوبجن او بې ارادې وي
خطرناکه نښې	**** تبه لري
	**** تنفس يی کميږي
	**** د وينی فشار يی کښته وي
	**** وزن يی کميږي

له پورتنيو اعراضو سربيره لوړ اختلاطات هم رامنځته کيږي چې د وجود متخلفې برخې او سيستمونه مصابيږي .

الف – هضمي سيستم : هضمي سيستم نورمال وظايف نه شي ترسره کولای . قبضيت موجود وي ، الکول د مري التهاب او

کنسر هم راپیدا کوي . د معدې التهاب ، د معدې قرحه ، د هضمي سیستم ویجاړېدل ، مضمن اسهالات ، د کیسې صفرا او پانقراص د غدې التهاب د ځګر التهاب او سیروز .

د جلد ناروغی : د پوستکي زخمونه ، قرحی مکروبي التهابونو ته د مساعدو شرایطو رامنځته کیدل .

ج – د وجود دفاعي قوت له منځه تلل : د B-Cell او T-Cell سیستم تخریبوي . د داخلي غدواتو افرازات کمیږي او ځینی افرازات چې ګټور نه دي زیاتیږي . د غذایی موادو جذب او د اکسیجن لیول کمیږي . غذایی فقدان رامنځته کوي او د دُومی انتان او ناروغیو د اخته کیدو چانس زیاتیږي .

التهاب او انتانات :

د مخدره موادو معتادین او په عصبي او رواني ربړو اخته کسانو کې د وجود د عمومي او سیستمیك انتاني ناروغیو چانس زیات وي . تنفسي ، قلبي وعایی ، د مفاصلو هډوکو ، پښتورګو ناروغي التهابات او انتانات رامنځته کیږي . کمخوني ، ملریا ، توبرکلوز ، ایډز ، تیتانوس د دې بدبختانو په برخه وي .

د ځګر التهاب :

ځګر د وجود یوه ډیره مهمه عضوه ده . اکثره زهرجن مواد د ځګر په واسطه خنثی شي . د مخدره موادو اعتیاد خصوصاً شراب ځګر تخریبوي او اکثره په مخدره موادو اخته کسان د ځګر حاد او مزمن التهاب باندې مبتلا وي .

تنفسي اختلاط :

له تنفسي لارې التهاب انتانات ، د سُش مکروبونه ، لکه

نومونیا او توبرکلوز ، کانسر او د هیروینو په معتادینو کې د شُش اذیما وژونکی خطر دی .

د دوراني او قلبي سیستم اختلاطات :

د زړه د عضلي د ناروغیو تر خوا انتاني او التهابي ناروغي د وینې د فشار تغییرات ، د قلب د عضلي د رګونو بندش د قلب عدم کفایه او توقف .

د پښتورګو اختلاطات :

د پښتورګـــو وظیفه یې قدرت کمیږي . پښتورګـــو کې وظیفه یې عدم کفایه رامنځته کیږي . د پښتورګو فلترونه کار نه کوي ، نسج یې تخریب شي او نفراتیك سندروم منځته راځي .

جلد :

د جلد وچوالی ، زخمونو او قرحو مختلفو التهابونو او د لاسونو او پښنو پړسوب د جلد قوت له منځه وړي .

غاښونه :

وری التهابي کیږي ، وینې کیږي ، غاښونه په چینجو او نورو مرضونو اخته شي . د خولې کنسر هم رامنځته کیږي .

بولي تناسلي :

عقامت د مثانی تکلیفونه ، انتاني ناروغی ، سفلیس ، سوزاك او به متمدنو ملکونو کی ایدز پیښیږي .

دا ناروغي او خصوصاً زیړی ، د ځګر التهاب او سروز خورا وژونکي اختلاطات دي .

د مخدره موادو لابراتواري کتنې :

د مخدره موادو د تشخیص لپاره مختلفې لابراتواري کتنې

رامنځته شوي دي . دا هم په اکثره هيوادونو کې ډيره جدي مسأله ده چې د صحي معايناتو ترڅنګ تر څو چې د مخدره موادو د معايناتو راپور نه وي موجود څوك په ادارو کې د کار حق نه شي ترلاسه کولای .

غوښتنې او سپارښتنې

که د افغاني جنګ ځپلی ټولنې خوا ته ځیر شو اساسي غوښتنه چې د ټول ملت سرتاسري اړتیا هم ده هغه د جنګ پر ځای د سولې تأمین دی .

جنګ او رواني جګړې چې د ټولو ستونزو ، تخریبونو او د هیواد د ړنګیدو اساس تشکیلوي . د ټولو رواني ، عصبي او وژونکو ناروغتیاوو مور بلل کیږي . د رواني ربړو ، عصبي او حتی عقلي ناروغیو په رامنځته کیدو کې د ټولنې لپاره ډیرې بدبختۍ رامنځته شوې د مخدره موادو اعتیاد او وبا هم د همدې رنځونو کړی ده . اوس نړۍ کې رواني ، فزیکي او د نورو صحي پرابلمونو ترخوا د صحت تعریف داسې وړاندې کوي :

« يوازې د ناروغۍ نه لرل صحت نه بلل کيږي ، بلکه روغتيا د کامل جسمي ، رواني او اجتماعي بهبود څخه عبارت ده » .

د WHO د پورتني تعريف او د جنگ ښکار شوی افغاني ټولني لپاره د يو عمومي طبي ماستر پلان په هکله خبرې او پروگرام رامنځته شو . د دې ماستر پلان په برخه کې د مختلفو ادارو او افغاني مسلکي کدرونو له خوا کار وشو . (وفا) هم يو ورځنی سيمينار درلود چې د روغتيايي ماستر پلان په برخه کې ورکې نظريات وړاندې شول او بحثونه وشول . موږ د افغان رفاهي مرکز په ابتکار د طبي ماستر پلان طرحه باندې کار وکړ . بالاخره د ۱۹۹۱ ع کال د فبرورۍ په ۲۳ مه نيټه د پنځه کلن طبي ماستر پلان لومړنی اسناد ترتيب شول . دا پنځه کلن طبي ماستر پلان د مجاهدينو د مؤقت اسلامي حکومت ؛ د کابل رژيم استازو او د WHO له خوا په ژنيو کې ومنل شو چې له بده مرغه د روانو جگړو او د WHO د عملي پروگرامونو د نيمگړتياوو ښکار شو .

موږ په دې ليکنه کې له طبي ماستر پلان څخه څکه يادونه کوو چې د جنگ ځپلی هيواد د جوړښت په عمومي ماستر پلان کې د رواني پرابلمونو او د عصبي صحي خدماتو برخه د عامې روغتيا خورا جدي او د مهم کار ساحه تشکيلوي .

: عصبي برخې طبي پروگرام د افغانستان په طبي ماستر پلان کې مطرح شوي دي او که د WHO له وعدې سره وړباندې کار شوی وای تراوسه باید وړباندې (۳۰۵۰۰۰۰) امريکايي ډالره مصرف شوي وای .

د اسانتيا لپاره د دې پلان خلاصه بې له لاسوهنې رااخلو :

Long Term Program of Mental Health Department and Campaign Against Drug Abuse

Phase I:

1. Establishment support of psychiatric centers and measures against drug abuse. (In process)

2. Establish a psychiatric clinic in Peshawar. (In process)

3. Printing of posters and publicity material. Printing of articles on mental health and against drug abuse.

4. Holding of regular conferences to bring together participants from different centers for exchange of technical information and to keep abreast of new developments in the field of mental health. Recording on cassettes and distribution of conference proceedings.

5. Treat psychiatric disorders, mental retardation and drug addiction.

Phase II:

1. Organize a limited number of mental health workers in the refugee camps inside Afghanistan. .

2. Organize psychiatric care clinics in refugee areas.

3. Organize regional psychiatric care hospital.

4. Organize psyehiatric care clinics for treatment of drug addition.

5. Publish a regular, periodic magazine about mental health and against drug abuse.

6. Continue and expand conferences on mental health and publication of posters and educational material.

7. Begin technician training and specialist training programs.

8. Arrange seminars on mental health problems and psychiatric medicine.

9. Survey psychiatric disorders in Afghanistan..

Phase III:

1. Organize psychiatric care departments in each provincial hospital.

2. Develop specialized training program.

3. Organize psychiatric are clinics at district level.

4. Organize advanced level laboratories.

5. Establish special schools for the mentally retarded.

6. Organize special rehabilitation centers for the psychologically handicapped.

7. Organize psychiatric centers for psychometry.

8. Continue and expand conferences, seminars and meetings on mental health.

9. Publish educational and information materials, articles, books on mental health. Translate academic and general articles and books on mental health from foreign languages into Afghan national languages.

10. Establish a research section.

Total Budgetary Requirements for Five Years: US$ 3,050,000,00

له پورتني لنډيز سربيره د يونيسف او UNDCP او د WHO ځيني ګډې پروژې شته چې د رواني ، صحي او د مخدره موادو لپاره پروګرامونه لري .

د دې غوښتنو د پوره کولو په لار کې که مؤثر او عملي پروګرامونه رامنځته نه شي دا به د ډيرو پرتو ستونزو په منځ کې يوه خطرناکه برخه جوړه کړي او د افغاني ټولنې راتلونکی به لا تياره کاندي .

سپارښتنې :

کلينيکي امکانات :

افغانان د رواني روغتيا د کنټرول او تداوۍ لپاره هيڅ مؤثر او تخصصي کلينيکونه نه لري . د مخدره موادو اعتياد او رواني طب د عامې روغتيا يوه مهمه برخه تشکيلوي . له بده مرغه تراوسه داسې تدابير نه دي نيول شوي چې د مخدره موادو د مخنيوی لپاره مؤثر وي او د رواني خدماتو لپاره له هغو افغانانو سره مرسته وکړي ، چې د اعتياد او رواني مسايلو ښکار شوي دي .

رواني خدمات ، مرستې او د اعتياد د کنټرول او تداوۍ مرکزونه بايد د افغانستان د ولاياتو د عامې روغتيا په تشکيل کې د يوې مهمې برخې په توګه ونيول شي او د تخصصي کدرونو د روزنې او لازمو وسايلو او امکاناتو په برابرولو بايد جدي کار وشي .

ټول ملي او نړيوال ارګانونه چې د رواني خدماتو او د مخدره موادو د کنټرول او تداوۍ په برخهٔ کی فعاليتونه او پروګرامونه لري بايد د افغانستان لپاره په يوه ګډ عملي او منلي پلان کار وکړي .

الف : تراوسه هيڅ کومه واقعي او رشتونی احصائيه نه ده

ويرې او دهشت اچونې لپاره ترې استفاده شوې ، په خپله دا وحشيانه او ضد بشري عملونه د پراخه رواني او عصبي تشوشاتو سبب گرځي ، چې ځينی لنډ مثالونه يې مطرح کوو :

١ - زما يو همزولی شاه غاسي نوميده د کونډې مور په ډيرې خوارۍ لوی شو ، زلمی شو او د سر سړی شو . روسي لښکريانو او د هغو لاسپوڅو شهيد کړ او په خپل انګړ کې يې د همغه کونډې بوډۍ مور په مخ کې اور ورواچاوه او مړی يې وسوځول شو .

٢ - د يوې غريزې سيمې څخه درې تنه مجاهدين ونيول شول په ټانکونو پورې وتړل شول او تر هغه يې راکاږل چې د غوښو پوټې يې په ځمکه ونښتل .

٣ - ډيرې څخې او کاريزونه چې هلته به ولسي خلکو او مجاهدينو پناه اخيستی وه د گاز په واسطه مسموم شول ؛ پترول به يې پرې وپاشل او اور به يې ورواچاوه .

٤ - روسانو د ده حاجی او ده همزه په سيمه کې د غزني د مرکزي جبهې ١٨ تنه د ولسي خلکو په مخ کې حلال کړل ؛ بيا يې ٥٠ تنه ماشومان او ښځې په مرميو غلبيل کړل او کلي يې وسوځول . (هلته مجاهدينو ١١ تنه روسان وژلي وو) .

٥ - د کونړ د کرالې پوره کلی يې قتل عام کړ او ژوندي زخميان يې د کونړ سيند ته ورغورځول . هغو کونډو او يتيمانو چې دا صحنې يې کتلې او بيا يې د مهاجرت محروميتونه ورسره ليدلي دي . دې ټولو خپل ناوړه رواني اثرات پر دوی پريښي دي .

* په جگړو او روانو وطن ورانوونکو پيښو کې د هيواد

برلاسه شوې چې دا وښيي چې د جنگ تخريب او وحشتونو په افغانستان کې څومره رواني او عصبي ناروغتياوې او مصيبتونه رامنځته کړي دي . دا ستونزې په کومو ساحو کې خورا د جدي خطر او د ټولنې لپاره د اساسي ستونزو شکل غوره کړی دی . څومره ښځې او نارينه ، ځوانان او کوچنيان په رواني ، عصبي او د مخدره موادو په خطر اخته دي ؟ که په يوی حسابي احصائيی او تحقيقي پروگرام څومره ژر کار شروع شي مؤثريت به يی زيات وي. د يوی تحقيقي عملي سروی لپاره هيڅ کوم بنديز نه ليدل کيږي او خورا اسانه او عملي امکانات د ملي او نړيوالو ادارو ترمنځ رامنځته کيدای شي .

ب : د رواني خدماتو د مؤثرو مرکزونو او د تخصصي ټولنيزو همکارانو د غني کولو له لارې د عامې روغتيا او د مستقلو طبي خدماتو د موجودو امکاناتو ترخوا د مخدره موادو د معتادينو او په رواني او روحي پرابلمونو د اخته شوو کسانو د دوباره رغونې ، فعالولو او ټولنې ته د عملي فعاليت لپاره د آماده کولو پروگرام بايد تقويه شي .

ج : د معيوبينو او هغو عصبي او رواني ناروغانو لپاره بايد د مرستونونو په بيا ودانولو کار وشي او يوازې په شکلي او غيرمؤثرو او د لنډو ورځو لپاره د بی کنتروله مرکزونو په فعاليدو نه يوازې دا چې پرتې ستونزې نه حليږي ، بلکه د راتلونکي عملي او مؤثرو ادارو مخه نيسي او وخت له لاسه ځي .

آگاهی او تربيه :

د معارف له لارې له ابتدائيه ښوونځيو څخه تر پوهنتون پورې

د یو منلي او مؤثر نصاب په هکله اړتیا موجوده ده ، که د دې ستونزو او بالخصوص د رواني او عصبي ناروغانو او د مخدره موادو د معتادینو د ژوند او سرنوشت په برخه کې جدي پاملرنه ونه شي او د مخدره موادو د کنترول په برخه کې د پوهې او آګاهی د لوړولو لپاره عملي لارې خپلې نه شي ، د افغاني ټولنې دفاعي او د مقابلې په بیداری او لوړولو کې برخه وانه خیستل شي د دې ورځ په ورځ پرمختللونکی ویا مخه نیول اسانه کار نه دی .

دکار محیط :

په رواني او عصبي ستونزو او په مخدره موادو معتاد شوي بدبختان د ګډ کار په محیط کې ژر وده کوي او د دوی د شخصیت د حفاظت او په ټولنې کې د منلو لپاره هغه وخت امکانات ترلاسه کیږي چې د کار محیط پیدا کړي او عاید ولري ، څو خپل ځان ته، کورنی ته او ټولنې ته مطرح شي .

د ماشومانو روزنه او تربیه :

جګړو او ناوړه سیمه ییزو ټوپکواکیو ، د جنګي وحشتونو ، ډاروونکو پیښو د کوچنیانو رواني حالاتو ته ډیره صدمه رسولی . د ډیرو کوچنیانو کورنی له منځه تللي ، ډیر کوچنیان د ناوړه مالي ستونزو له کبله سوالګر شوي ، ډیر یی بې سرپرسته او بې سرنوشته دي . د غذایی فقدان سره مخامخ دي . دا نیم ځانه ماشومان که په همدې بې پروایی او ویجاړوونکیو حالاتو کې د روزنې او سالمې تربیې امکانات هم ونه لري ځوروونکي راتلونکی به یې تهدید کړي ، د انحرافونو ، جرمونو او وژنو ښکار به شي. د افغانو ماشومانو راتلونکی ، پالل او د یو منظم تربیه یی او

سالمې روزنې په چارو کې باید عملي کارونه ترسره شي .

له بده مرغه همدا بچیان چې راپورته کیږي د دوی د فزیکي قوت نه د جګړې په اوږدولو او تخریبوونکیو سکتورونو کې ګټه اخیستل کیږي . د زیاتو ځوانانو لپاره جګړې د ګټې او تولید یوه عملي او اسانه لار ده او دا اوس پته نه ده چې اکثره جنګي ډلې ځوانان د خپلو جنګي اجیرانو په توګه د پیسو په وسیله رانیسي او کوم تربیه یې او جوړوونکي پروګرام ورسره نشته .

د جنګ ځپلو حالات :

د جګړې د مصیبتونو له امله پراخه کتلې د خورا بدبخته ژوندانه سره مخامخ دي . دوی ځوریږي او په مختلفو ستونزو کې اوسیږي . همدا محرومیتونه د دوی ذهني سکون له منځه وړي . معیوبینو په رواني او عصبي ناروغیو اخته خلکو ، سنځو او بوډاګانو ته خصوصاً باید د امن او مرستو مرکزونه جوړ شي . دوی باید په عزت د ژوند د حق امکانات ترلاسه کړي . د خیریه مؤسسو له خوا د یوه ګډ پروګرام لاندې د افغاني سرې میاشتې او مرستون پراخه مرکزونه د ولایاتو او ولسوالیو په سطحه جوړ شي. د فقیرو او سوالګرو په توګه ورته د کومکونو اداري خپل پروګرام تغییر کړي . د دوی حقوق تثبیت شي او په محفوظ او با عزته توګه ورته د ژوند سهولتونه آماده شي .

دا به ډېره ګټوره نه وي چې د یتیمانو ، بوډاګانو او معیوبینو په نوم بې شمیره اداري او مؤسسې موجودې وي او د همدې متأثرو افرادو په نوم امکانات په سلو کې اویا په تنظیم او ادارو مصرف شي او حد اقل د راتلونکی لپاره یو مؤثره اداره هم

رامنځته شي .

مأخذونه :

١ - تهاجم مسلحانهء روسها بر افغانستان ، نگارش ، زرملوال ، طبع وفا ، ١٣٦٨ .

٢ - شخصيت خنگه وده کوي ؟ مؤلف هيلن چاکتر .

٣ - د بشر د حقوقو د فـــــاجعې په خـــــاطر نړيواله ذمه واري (امنيستی انترنيشنل) .

٤ - خپلواکي ، دوېمه دوره ، دويم کال ، دوېمه گنه ، ١٣٧٤ .

5. Second Adition, Neuro Anatomy.

٦ - انسان او ايمان ، استاد مطهری .

٧ - جنايات شوروی در افغانستان ، (نشريهء آزاد) .

٨ - تهاجم وجنايات شوروی در افغانستان نويسنده علی جنگ .

٩ - فاجعهء ٦ جدی ، دوکتور ظاهر صديق .

10. The British Journal of Psychiatry, 1994.-

11. UN Afghanistan , Aina magazine, Vol. 5, 1997.-

١٢ - کوثر ، شماره ٢ ، نمبر مسلسل ٢ ، ١٣٧٠ .

١٣ - د مخدره موادو زيانونه ، ډاکټر جکړ شينواری ، ١٣٦٦ .

١٤ - خودکُشي تدريجی ، (نشريهء آزاد) ، ١٩٩٤ .

١٥ - افغانستان تجاوز وعقب نشينی ، ١٣٦٨.

١٦ - کرونولوژی جنبش طالبان ، شماره ١ ، (چاپ مسکو) .

١٧ - د مخدره موادو تداوي ، راپور (افغانی رفاهی مرکز) .

B
6.52508
PAS
7263

Serial No. 110-

War is a major factor in spreading psychological disease among Afghans

By

Dr. M. Rahim Pushtoonyar

Published

By

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

The Writers Union of Free Afghanistan (WUFA)

Peshawar 1998-
Copies 2000-

کلتوري او علمي میراثونو ته خورا ډیر زیان رسیدلی او د شخصیت د سالمې ودې ، د خودي او متانت د احساس ژوندي ساتل په ټولنه کې د خورا متینو او پخو علمي ، تاریخي او کلتوري بناوو د اساس په توګه خپل ارزښت لري . د تجاوزي جګړو او د روانو جګړو ورانوونکیو لیکو دا ټولې اساسي غناوې رنګې کړې دي چې په خپل وار د رواني ستونزو او د حوادثو په مقابل کې د افغانانو د ورروستي او راتلونکي نسل مقاومت یې ډیر کم کړی دی او زیات شمیر یې په رواني تشوشاتو اخته دي .

* اختناق : د جګړې د عاملینو منطق او د ټولنې په منځ کې د قضاوت لپاره د راولاړیدو توان خورا په هیڅ حسابیږي او د ولسونو د بیداری او هوښیارتیا پر ضد اختناق هغه وسیله ده چې د جنګ د ادامې او د جګړه مارو د حاکمیت لپاره یې په ټولنو مسلط کوي . اختناق په لومړي قدم کې د ټولنې روښانه پرګنې له فشار سره مخامخ کوي او د سالم رشد مخه نیسي .

اختناق د یو منفي عامل په توګه د ټولنې په منځ کې له روحي او رواني پلوه خورا ناوړه اثرات رامنځته کوي او د ټولنې د سالم فکري جریان د ودې مخه نیسي . اکثر منورین د اختناق له ساحې څخه فرار کوي او د مغزونو فرار په ټولنه کې د لاینحلو مسایلو د تحلیل کولو او د خلکو د سوالونو د حل کولو چانس کموي او دا محرومیت د رواني تشوشاتو په راپیدا کولو کې خپل نقش لري .

د اختناق فشار او ویرو نکیو حالاتو څخه په افغاني ټولنه کې د فرار روحیه په خلکو تحمیل شوه او ډیرې سیمې له خلکو څخه خالي شوی . هغه انفرادي او کتله یی فرار چې په

داخلي او خارجي مهاجرتونو بدل شو خپل منفي اثرات یې په رواني لحاظ رامنځته کړي او هغه سکون چې یو انسان یې په نورمال حالت کې لري٬ دا سکون په یوه ناانډوله او بې اساسه محیط کې کاملاً له منځه ځي او د نورمال شخصیت د ودې شرایط نه برابروي .

* د داخلي ورور وژنې جګړو منفي اثرات چې د ډېرو وحشتونو ښکارندوی دي . وروستۍ جګړو چې د مخامخ او لاس په لاس جګړې په شکل د مجاهدینو او رنګارنګ ملیشو له خوا پیل شوي او تراوسه لا جاري دي٬ خورا خطرناک حالات یې رامنځته کړل او د زیاتو رواني فشارونو او ناوړه روحي او عصبي پرابلمونو سره یې وطنوال مخامخ کړل . د کرکې او نفرت انګیزې او د هرې تخریبي او راپارونکې ضرباتو او عملونو سره بیدفاع خلک مخامخ شول ، جنګي لیونیان په مستقیم تیري او بې ناموسۍ هم اخته شول ، کتلوي وژنې وشوې او داسې حالات رامنځته شول چې د کور د ماحول شخصي مصؤونیت یې له منځه یوړ . دا حالات او عملونه د دې ښکارندوی دي چې په خپله جنګي لیونیان څومره په رواني پرابلمونو او وحشتونو او د انسان په سپکاوي او وژنو خوشحالیږي او د بشر آزارول یې لومړۍ وظیفه تاکل شوې ده . په کانتینیرونو کې د خلکو سوځول ، په سر کې یې میخونه ټکوهل په اور کې یې سوځول ، ماشومان حلالول ، ښځې بې عفته کول ، بربنډول ، د مړو نخول ، پیغلې تښتول ، د کورونو نه ځانونه غورځول ، خلک انتهار ته مجبورول هغه پیښې دي چې زیاتره ټولنې د داسې وحشتونو ښکار شوې دي . متأثره خلک او د دې

عملونو عاملین له رواني او روحي پلوه له زیاتو ناوړه اثراتو سره مخامخ کیږي حتی دا پیښې د اوږدې مودې لپاره د انسان په روان کې موجودې وې او خپل ناوړه اثرات او عصبي تشوشات او ناروغتیاوې رامنځته کولای شي . دا هم ثابته شوې ده چې د جګړو ناوړه اثرات او غیر بشري عملونه په نسلونو کې راپاته کیږي او له یوه انسان څخه بل انسان ته هم سرایت کوي . د یو افغاني رواني متخصص په قول چې د ده په مستقیمو څیړنو کې راغلي دي ، لیکي چې :"د دوهمې نړیوالې جګړې د کړاوونو او وحشتونو اثرات د یو شمیر هغه یهودیانو په مغزو او روان کې راپاته وو چې پلرونو او نیکونو ورته کیسې کړې وې".

که دا ناوړه اثرات جدي ونه نیول شي او له رواني پلوه د صحت د خدماتو په رامنځته کولو کې مؤثر او باکفایته عملي امکانات ترلاسه نه شي د جګړو د وحشتونو ناوړه اثرات د افغانانو په نسلونو کې پاته کیږي او هر وخت دا خطر رامنځته کیدای شي چې ډیر شمیر افغانان په رواني تشوشاتو او عصبي امراضو اخته شي .

هغه کسان چې د ذهني او رواني تشوشاتو ښکار شوي دي ؛ په پرله پسې ډول له یو عادي حالت څخه خطرناک پړاو ته داخلیږي که جدي پاملرنه ورته ونه شي د عصبي ناروغیو او حتی د خپل ژوند له لاسه ورکولو ترحده پرمخ ځي .

ځانګړې رواني رېږې

د پوړتني لنډيز نه په ګټه اخيستنې د رواني رېړو په رامنځته کولو کې د جنګ د ناوړه اغيزو په هکله د ځينو مهمو برخو څېړنه لازمه ده . جګړې په ټولو خلکو خپل ناوړه اثرات لري چې د ټولنې په منځ کې اوس يوازې د جګړې ښکار شوي بنيادمان په رواني پرابلمونو نه وي اخته ؛ هغه اړخ چې جګړه يې رامنځته کړی په خپل ځای له رواني پرابلمونو سره مخامخ کيږي او په مختلفو ناآراميو اخته وي.د اکثرو مستبدو او جلادانو رواني حالات د اضطراب او ليونتوب تر سرحده ورسيږي .

جګړه د رواني او روحي رېړو او د عصبي ناروغيو مور ګڼل کيږي . مور د جګړې د فزيکي اثراتو په هکله ژر پوهيږو ځکه

دوکتور محمدرحيم پښتونيار

جګړه - په افغانانوکې - درواني ناروغيو
او
اعتياد دزياتيدو دعامل په توګه

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

۱۳۷۶

جگړه - په افغانانو کې - د رواني ناروغیو او اعتیاد د زیاتیدو د عامل په توګه

PROPERTY OF ACKU

لیکوال

دوکتور محمدرحیم پښتونیار

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

۱۳۷٦ هـ ش

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم	:	جګړه - په افغانانو کې - د رواني ناروغیو او اعتیاد د زیاتیدو د عامل په توګه
لیکونکی	:	دوکتور محمد رحیم پښتونیار
خپرندوی	:	د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه
تیراژ	:	۲۰۰۰
د چاپ ځای	:	تاپ پرنټرز - پیښور
د چاپ کال	:	۱۳۷۶ هـ ش / ۱۹۹۸ ع
مهتمم	:	محمد ظاهر بابري
کمپوزر	:	سید حسین پاچا

فهرست

عنوان	مخ
سریزه	۱
د افغانانو د اوسنیو رواني ستونزو عوامل	٤
ځانګړې رواني ربړې	۹
۱ - ویره	۱۳
۲ - بدني او ذهني ناآرامتیا	۱٤
۳ - وسواس او تجرید	۱۵
٤ - جګړې د روحي انحطاط سبب ګرځي	۱٦
د جګړې د تخریبي اړخ ، رواني ناوړه اثرات	۱۸
- چاودنې او ماینونه	۲۲
- نور عوامل	۲٤
- ترور	۲۵
- د تحقیق او پوښتنو مرحله	۲٦
- دویمه مرحله : توقیف او نظارت	۲٦
اعتیاد د جګړې بل میراث دی	۳۱
افغانستان او مخدره مواد	۳۳
خوب راوړونکي مرکبات	٤۳
د مخدره موادو کلینیکي منظره	٤٦
د مخدره موادو مستقیم ضرورتونه	٤۸
غوښتنې او سپارښتنې	۵۵
Long Term Program of Mental ...	۵۷
سپارښتنې	۵۹
مأخذونه	٦۳